مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۲۹۸** (از ۳۱ حمل الی ۷ ثور ۱۳۹۸ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی، امنیتی، اقتصادی و اجتماعی هفته‌واری است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

---

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

مقدمه ........................................ ۲

**افزایش آب‌های زیرزمینی؛ نویدی برای رفع خشک‌سالی**

معضل کمبود آب ........................................ ۴

افزایش آب‌های زیرزمینی ........................................ ۵

چگونگی مبارزه با بحران کم‌آبی ........................................ ٦

**د ملي يووالي حکومت د کاري دورې غځېدلو قانوني ارزونه**

د ملي يووالي حکومت پنځه کلنه حکومتولي ........................................ ۷

د جمهور رئیس د کاري دورې تمدید؛ څو قانوني نیوکې ........................................ ۱۰

## مقدمه

د ملي يووالي حکومت پنځو کلو پوره کېدو ته د يوې مياشتې نه کمې ورځې پاتې دي چې ورسره هممهاله د جمهوري رياست د حقوقي چارو د پاليسۍ معاونيت په غوښتنه د جمهور رئيس کاري موده د نوي جمهور رئيس تر ټاکل کېدو پورې د سترې محکمې لهلوري وغزول شوه. او ولسمشريزې ټاکنې هم د نويو کمېشنرانو په راتګ سره د شپږو مياشتو لپاره وځنډول شوې چې د تلې مياشتې په ٦ مه نېټه به تر سره شي؛ په داسې حال کې چې راتلوونکې اوونۍ د سولې مشورتي لويه جرګه په کابل کې جوړېږي چې ور سره د ملي يووالي حکومت دننه، سياسي جريانونو او ملي رهبرانو د نه ګډون خبره کړې او دا يې د جمهور رئيس محمد اشرف غني له لوري د ځان په ګټه ټاکنيز کمپاين ياد کړی په دې او د سترې محکمې له لوري د جمهور رئيس د کاري مودې غزېدلو موضوع د ستراتېژيکو او سيمهييزو څېړنو مرکز د اوونيز تحليل په لومړۍ برخه کې شننه لولئ.

د تحليل په دويمه برخه کې بيا د ځمکې لاندې اوبو د سطحې لوړېدو ته ځانګړې شوې چې د اوبو او انرژۍ وزارت اعلان کړی چې په کابل کې د ځمکې لاندې اوبو سطحه نظر تېر کال ته له ۲ مترو نه تر ۱۲ مترو پورې لوړه شوې چې تېر کال د کابل به شمول د افغانستان په ۲۰ ولايتونو کې له ۳۵۰ زرو زيات کسان د وچکالۍ له امله خپلې سيمې پرېابښې وې. افغانستان يو کرنيز هېواد دی د ځينو احصايو له مخې اوسمهال تقريباً له ٦٥ سلنه زيات کسان په کرنه او مالدارۍ بوخت دي.د اوبو د سطحې په لوړېدو سره به وچکالي ختمه، د خلکو اقتصادي ستونزې او ور سره به د هوا په پاکوالي سره روغتيايي ستونزې هم کمې شي.

# افزایش آب‌های زیرزمینی؛ نویدی برای رفع خشک‌سالی



اخیراً وزارت انرژی و آب افغانستان اعلام کرده است که امسال سطح آب زیرزمینی در کابل بالا رفته است. به گفتهٔ این وزارت، نتایج مطالعات و ارقام جمع آوری شده از سیستم چاه‌های نظارتی شهر کابل، نشان می‌دهد که از اثر بارندگی‌های فصل زمستان گذشته سطح آب‌های زیرزمینی در شهر کابل در ماه حمل سال جاری نسبت به ماه حمل سال ۱۳۹۷هـ ش در حدود ۲ الی ۱۲ متر افزایش یافته است. بر بنیاد مطالعات وزارت انرژی و آب، افزایش کمتر در آب‌های زیرزمینی قسمت‌های شرقی؛ اما بیشتر آن در قسمت‌های غربی ولایت کابل بنابر موجودیت ساحه جذب و پوشش برف، می‌باشد.

از افزایش آب و بلند آمدن سطح آب‌های زیرزمینی شهر کابل در حالی خبر داده می‌شود که تنها در سال گذشته میلادی به دلیل خشک‌سالی در ۲۰ ولایت افغانستان نزدیک به ۳۵۰ هزار افغان از سرزمین‌های شان آواره شده بودند.

با آنکه در زمستان امسال افزایش بارنده‌گی‌ها باعث متحمل شدن خسارات مالی و جانی زیادی به مردم نیز شد؛ اما در سراسر کشور نویدی از بین رفتن خشک‌سالی را نیز با خود داشت. با در نظر داشت موارد مذکور، در این‌جا روی افزایش آب‌های زیرزمینی شهر کابل و این که تأثیر آن بر زنده‌گی مردم چه خواهد بود؟ پرداخته شده است.

## معضل کمبود آب

علاوه از جنگ،ناامنی و مشکلات اقتصادی، حوادث طبیعی نیز همه ساله باعث وارد شدن خسارات مالی و جانی به مردم افغانستان می‌شود. در این میان کمبود آب یا خشک‌سالی یکی از چالش‌هایی بزرگی می‌باشد که در چند سال اخیر، مردم این کشور از آن رنج می‌بردند.

با آنکه افغانستان دارای آب‌های روان زیاد می‌باشد؛ اما بخاطر نبود استفادۀ درست از آن، مردم مجبور شده اند تا با حفر کردن چاه‌های عمیق غیر معیاری، آب‌های زیر زمینی را استخراج کنند. حفر کردن چاه‌های عمیق غیر معیاری و نیز خشک‌سالی‌های سه دهۀ اخیر باعث پایین آمدن سطح آب‌های زیرزمینی شهر کابل و دیگر شهرهای کشور شده است.

بر بنیاد گزارش اخیر اداره "اوچا" سازمان ملل متحد در سال ۲۰۱۸م به سبب خشک‌سالی حدود دو میلیون فرد با نبود مواد خوراکی مواجه بودند. در کنار خشک‌سالی در دیگر ولایات، شهر کابل نیز با معضل کمبود آب روبرو بود. تغییر اقلیم و کمبودی آب باعث شده بود که اکثریت از فاصله‌های دور آب مورد نیاز خویش را پوره می‌کردند. حتی در برخی مناطق کشور کاریزهای بسیار سابقه و چاه‌های که با عمق بیش از صد متر بودند، نیز خشکیدند.

یکی از تأثیرات منفی کمبود آب، از بین رفتن زمین‌های حاصل‌خیز و مرطوب در محیط زیست می‌باشد. وجود زمین‌های حاصل‌خیز علاوه بر اینکه از لحاظ کشت و محصولات زراعتی آن حایز اهمیت است، بلکی برای تصفیه آب کمک کرده، از وقوع طوفان و جاری شدن سیلاب‌های نیز جلوگیری می‌کند.

در کل افغانستان در سه دهۀ اخیر چند بار شاهد خشک‌سالی‌ها بوده و هر بار این خشک‌سالی‌ها در کنار آلوده‌گی هوا، باعث از بین رفتن کشت‌ها، تلفات جانی و مالی گسترده نیز به مردم افغانستان شده است. به اساس گزارش بانک جهانی بعد از سال ۲۰۰۰م نزدیک به ٦.۵ میلیون فرد از نبود و یا هم کمبودی آب با مشکلاتی زیادی مواجه بودند.

## افزایش آب‌های زیرزمینی

با آنکه به دلیل کمبود بارنده‌گی‌ها در چند سال گذشته بخصوص زمستان ۱۳۹۶هـ ش، مردم افغانستان در سراسر کشور با معضل کمبود آب روبرو بودند و حتی در برخی شهرهای کشور با پایین رفتن آب های زیرزمینی اکثریت چاه‌های آب خشکیدند؛ اما با افزایش بارنده‌گی برف و باران در زمستان سال ۱۳۹۷هـ ش، در کنار افزایش آب‌های روان، سطح آب‌های زیرزمینی نیز بالا رفت.

بر بنیاد یافته‌های وزارت انرژی و آب افغانستان، در زمستان ۱۳۹۷ هـ ش، میزان بارنده‌گی نسبت به پنج سال گذشته ۵۱ درصد افزایش یافته است. به گفتهٔ این وزارت سال ۱۳۹۸ هـ ش نظر به افزایش آب، یک سالی خوب برای تأمین منابع آب زراعتی و بهبود محیط زیست در کشور خواهد بود.

افغانستان یک کشور زراعتی است و تا اندازه بیشتر اقتصاد این کشور متکی بر زراعت می‌باشد. بارنده‌گی‌های زمستان گذشته که خوشی افزایش آب‌های روان و زیرزمینی را در سال جاری خورشیدی باخود دارد، باعث رشد و افزایش محصولات زراعتی در سراسر کشور خواهد شد. در سال ۱۳۹۷هـ ش به دلیل خشک‌سالی محصولات کندم از ۴.۲ میلیون تن به ۲.۵ میلیون تن کاهش یافته بود؛ اما با افزایش بارنده‌گی‌ها امید است که امسال محصولات زراعتی بیشتر از پیش شوند و بر وضعیت اقتصادی مردم تأثیر مثبت نماید.

با این همه، هرچند میزان بلند بارنده‌گی امسال و بلند رفتن سطح آب‌های زیرزمینی یک خبر خوش است؛ اما به گفتهٔ کارشناسان محیط زیست و آب، این بارنده‌گی‌ها و افزایش آب بدون کوتاه مدت، در دراز مدت فایدهٔ زیاد نخواهد داشت. آن‌ها تأکید دارند که برای دراز مدت از فرصت‌های موجود باید استفادهٔ درست صورت گیرد، با کندن چاه‌های عمیق و ساخت حوض‌های کوچک برای ذخیره کردن آب‌های سیلاب و باران می‌توان این آب‌ها را پس از فلتر، به زیر زمین انتقال داد و این خود در آینده برای تغذیه آب‌های زیرزمینی مفید واقع خواهد شد.

## چگونگی مبارزه با بحران کم‌آبی

مسئله کمبود آب در سراسر جهان به یک بحران عمومی تبدیل شده است. با در نظر داشت این بحران و نیز خشک‌سالی‌های چند سال اخیر در افغانستان، در حال حاضر صرفه‌جویی در مصرف آب، یک ضرورتی اجتناب‌ناپذیر برای جلوگیری از بحران کم‌آبی می‌باشد.

برای صرفه‌جویی آب و جلوگیری از بحران کم‌آبی در افغانستان نیاز است که چند نکتۀ ذیل را مدنظر داشته باشیم:

**استفادۀ درست آب در کشت:** با آنکه افغانستان یک کشور زراعتی است؛ اما سیستم زراعت و کشت‌آورزی در این کشور تا هنوز به شکل سنتی می‌باشد. برای مدیریت آب و کاهش در مصرف آن نیاز است که در هر منطقه نظر به اندازۀ آب آن کشت صورت گیرد. در مناطقی‌که آب کم دارند، چیزهای کشت شوند که به آب کم ضرورت داشته باشند و در مناطقی‌که آب بیشتر دارند، چیزهای کشت شوند به آب زیاد نیاز دارند. همچنان تلاش صورت گیرد که در آبیاری کشت‌ها از سامانه‌ها و سیستم‌های نوین آبیاری استفاده شود تا از بیجا رفتن آب‌ها جلوگیری صورت گیرد.


**ذخیره‌سازی آب باران:** جمع آوری و ذخیره سازی آب باران یکی از راه های دیگر برای مبارزه با بحران کمبود آب می باشد. از آب‌های ذخیره شدۀ باران، می‌توان هم در تغذیۀ آب‌های زیرزمینی و هم می‌توان برای کشت‌آورزی و باغداری استفاده کرد.

**احتیاط در صرفه‌جویی آب:** یکی از راه‌های مبارزه با کمبود بحران آب را می‌توان جلوگیری از استفادۀ بی‌رویۀ آب در خانه‌ها و محیط کار خود دانست. در حال حاضر نیاز است که هر فامیل در داخل خانۀ خویش در صرفه جویی آب از کار آشپزخانه گرفته، تا استفادۀ آب برای حمام کردن، موتر شویی، حویلی، باغچه و آب پاشی کوچۀ خویش، تلاش کند و از مصرف بی‌جای آب دوری کند. در این رابطه بالا بردن سطح آگاهی مردم یک امر مهم است.

**جلوگیری از حفر کردن چاه‌های عمیق:** یکی از عوامل عمدۀ کمبود آب زیرزمینی بخصوص در شهرهای افغانستان حفر ده‌ها حلقه چاه عمیق آب می‌باشد که از آب آن برای آبیاری یا هم تجارت استفاده می‌شود. در این رابطه نیاز است که اداره‌های مسوول دولتی برای جلوگیری از حفر کردن چاه‌های غیر معیاری عمیق گام بردارد و برای تغذیۀ دوباره آب های زیرزمینی تلاش کند.

پایان

# د ملي یووالي حکومت د کاري دورې غزېدلو قانوني ارزونه



[1]په داسې حال ؛ چې په اساسي قانون کې (د جمهور رئیس وظیفه تر ټاکنو وروسته د پنځم کال د غبرګولي په لومړۍنېټه پای ته رسېږي) [2]سترې محکمې د وري میاشتې په ۳۱ مه نېټه باندې د نوي ولسمشر تر ټاکل کېدو پورې د ولسمشر غني کاري دوره تمدیده کړې ده. د سترې محکمې د پرېکړې له مخې د اساسي قانون (د جمهور رئیس د کار تر پای ته رسېدو د مخه د نوي جمهور رئیس د ټاکلو لپاره ټاکنې، له ۳۰ تر ۶۰ ورځو پورې، موده کې تر سره شي) خو دا چې ټاکنې د امریکا او طالبانو د مخامخ خبرو اترو د پیل، د ټاکنو کمېسیون ناسم مدیریت، ناامنیو زیاتوالی، د ملي یووالي حکومت په دننه کې د اختلافاتو شتون او په وخت د نړیوالې ټولنې له لوري د بودجې د نه ورکړې له امله ټاکنې لومړۍ د همدې کال د وري په ۳۱ مه پلان شوې وې، خو بیا وروسته د چنګاښ ۲۹ مې او بلاخره نویو کمېشنرانو د راتلونکې تلې میاشتې شپږمې نیټې ته وځنډولې. په داسې حال کې چې د جمهور رئیس قانوني مودې پوره کېدو ته له یوې میاشتې کم وخت پاتې دی [3]د جمهوري ریاست د

---

[1] د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز یو غیردولتي ارګان دی چې په ۲۰۰۹ کال کې په کابل کې تاسیس شوی دی. اړیکې: ۰۷۸۴۰۸۹۵۹۰، info@csrskabul.com، وېبپاڼه: www.csrskabul.com

[2] https://www.asiatimes.com/2019/04/article/afghan-supreme-court-extends-presidents-term/

[3] https://www.trtworld.com/asia/afghan-supreme-court-extends-ghani-s-term-until-delayed-elections-26049

حقوقي چارو د پالیسۍ ریاست په غوښتنه سترې محکمې د ولسمشر غني کاري موده د نوي ولسمشر تر ټاکل کېدو پورې تمدید کړه. سیاسي جریانونه او د ولسمشریزو ټاکنو یو شمېر نوماندان د سترې محکمې له لوري د ولسمشر غني د واک مودې د غځولو په تړاو غبرګون ښودلی او زیاته کړې یې چې د اساسي قانون له مخې د ولسمشر غني کاري موده د جوزا پر لومړۍ نېټه، چې شاوخوا شل ورځې ورته پاتې دي ختمیږي.

[4]حقوقي چارو شنونکي او ګڼ افغان سیاستوال د سترې محکمې له لوري شوې پرېکړه د قانون خلاف او د سترې محکمې د صلاحیتونو څخه لوړه ګڼي، خو د حکومت اجرائیه ریاست د سترې محکمې له لوري د پرېکړې هر کلی کوي او زیاته وي چې ورته پرېکړې پخوا هم شوې وې او د سترې محکمې د حکم په اساس به نه یوازې ولسمشر غني بلکې د ملي یووالي حکومت دوره د نوي ولسمشر تر راتګ پورې دوام کوي

## د ملي یووالي حکومت پنځه کلنه حکومتولي

د افغانستان په څېر یوه جګړه‌ځپلي هېواد کې د واک پر سر له زیاتو اختلافونو راوروسته د ملي یووالي په نوم د یوه ایتلافي حکومت رامنځته کېدو پرېکړه، له لومړي سره په هېواد کې د یوه کمزوري حکومت د رامنځته کولو بنسټ ؤو.

[5]که د ملي یووالي حکومت پنځه کلن مزل ته نظر وکړو، دا حکومت له جوړېدو سره سم د داخلي اختلافاتو ښکار شو. په لومړیو کې د دواړو ټاکنیزو ډلو د مشرانو (ولسمشر او اجرائیه رئیس) ترمنځ او وروسته د دغو دوو ډلو دننه خپل‌منځي اختلافات راوټوکېدل. دغه اختلافات د پنځو کلونو په تېرېدو سره لا هم په یوه او بله بڼه روان دي، چې په وروستي مورد کې یې د مشورتي لویې جرګې په سر لانجې روانې دي، داسې چې اجرائیه رئیس په جرګه کې د نه ګډون ګوانښ وکړ او دا کار یې د جمهور رییس له پلوه، یو شانته ټاکنیز کمپاین وګاڼه. ددې سره

[4] https://www.dailyweesa.com/?p=35396

[5] http://fa.rfi.fr/%DB%8C%D8%A7%D8%B2%D8%AF%D9%87-%D9%86%D8%A7%D9%85%D8%B2%D8%AF-%D8%A7%D9%86%D8%AA%D8%AE%D8%A7%D8%A8%D8%A7%D8%AA-%D8%A7%D9%81%D8%BA%D8%A7%D9%86%D8%B3%D8%AA%D8%A7%D9%86-%D8%AA%D9%85%D8%AF%DB%8C%D8%AF-%D8%AF%D9%88%D8%B1%D9%87-%D8%A7%D8%B4%D8%B1%D9%81%E2%80%8C%D8%BA%D9%86%DB%8C-%D8%BA%DB%8C%D8%B1%D9%82%D8%A7%D9%86%D9%88%D9%86%DB%8C-%D8%A7%D8%B3%D8%AA-20190421/%D8%B3%DB%8C%D8%A7%D8%B3%D8%AA

هم‌مهاله زیاتو سیاسي جریانونو، رهبرانو او ولسمشرۍ ټاکنو ته نوماندو؛ هم په جرګه کې د نه ګډون اعلامیې ورکړې.

د ملي یوالي حکومت په رامنځته کېدو سره که څه هم، هیواد په اقتصادي او اداري لحاظ څه پرمختګونه وکړل. خو، له بده مرغه امنیتي وضعیت د تېر په پرتله نور هم خراب شو. په هېواد کې د جګړې لمن له جنوب څخه شمال ته پراخه شوه او د تېر په پرتله په شمالي ولایتونو کې جګړې زور واخیست. کندوز، غزني او فراه ولایتونو سقوط وکړ د هلمند او ارزګان ولایتونو د ښار تر لمنو طالبان راورسېدل. د دې ترڅنګ د حکومت تر کنټرول لاندې سیمې کمې شوې، د پخوا په پرتله ملکي تلفاتو کچه لوړه شوه، اسلامي دولت "داعش" ډلې په هېواد کې فعالیت پیل کړ او په ډېر سرعت یې د هېواد له ختیځ څخه شمال او نورو سیمو ته پراختیا وکړه، دغه راز د افغان نظامیانو په تلفاتو کې هم د تېر په پرتله زیاتوالی راغی، چې خپله جمهور رئیس تائید کړه چې د ملي یووالي حکومت په دوره کې یوازې ۴۵۰۰۰ زره افغان سرتیري وژل شوي دي.

[6]د سولې قضیه هم، چې په هېواد کې د روانې جګړې یوازینۍ حل‌لاره ګڼل کېږي، د تېر په شان د ملي یووالي حکومت پر مهال هم یوازې د شعار په توګه مخته وړل شوې له بله پلوه، د امریکا له لوري د افغانستان لپاره د [7]ځانګړي استازي زلمي خلیل زاد ټاکنه چې تراوسه یې له طالبانو سره پنځه ځله مخامخ خبرې کړې دي، د افغان حکومت له چارواکو، سیاسیونو او په ملي، سیمه‌ییزه او نړیواله کچه کوښښ کړي؛ چې د افغانستان په اړه یوه اجماع رامنځته کړي. په روسیه کې د افغان سیاسیونو ناسته له طالب مشرانو سره او اوس په قطر کې د افغان سیاسیونو، حکومتي چارواکو او طالبانو ګډه ناسته، چې په ډېر تآسف سره د ځینو مشکلاتو له امله وځنډېدله په افغانستان کې د سولې د ټینګښت لپاره هیلې راټوکولې دي. د نورو برخو ترڅنګ د ملي یووالي حکومت پر مهال د افغانستان بهرنی سیاست تر ډېره غبرګوني او په هېواد کې له امنیتي وضعیت سره تړل

[6] https://www.bbc.com/pashto/afghanistan-48005509

[7]https://www.alaraby.co.uk/english/news/2019/4/21/afghan-court-extends-ghanis-presidential-term-until-september-elections

شوی و. [98]دغه راز بهرنی سیاست بې‌ثباته روان و او په یو شمېر برخو کې نامتوازن هم و؛ خو له همدغو ستونزو سره سره د ملي یووالي حکومت چې کومې لاسته راوړنې لري، نو تر ډېره د بهرني سیاست په برخه کې دي [10]او په ځانګړې توګه د مرستو د راجلبولو، د انرژۍ د لېږد سیمه‌ییزو پروژو د کار پیلېدو او د ترانزیټ او سوداګرۍ په برخه کې له ځینو هېوادونو سره د هوکړه‌لیکونو د لاسلیک کولو یادونه کولی شو.

## د جمهور رئیس د کاري دورې تمدید؛ څو قانوني نیوکې

د اساسي قانون د۶۱ مې مادې له‌مخې د جمهور رئیس د کار موده پنځه کاله ده چې د جوزا تر لومړۍ نېټې پورې پای ته رسېږي او د واک ګدی نوي جمهور رئیس ته وسپارل شي ولې متأسفانه چې جمهور رئیس ونه توانېده چې پارلماني ټاکنې او ولسمشریزې ټاکنې په وخت سره تر سره کړي د پارلمان ۱۷ مه تقنیني دوره دری کاله په ځنډ سره هغه هم چې د کابل ولایت نهایي پایلې نه دي اعلان شوې تېره جمعه د ثور میاشتې په ۶ مه نېټه د ۱۷ مې تقنیني دورې پرانېسته وکړه. همدارنګه یې ولسمشریزې ټاکنې ۶ میاشتې وځنډولې چې تلې میاشتې په شپږمه نېټه به تر سره شي، وضعیت ته په کتلو سره شاید په دې نېټه هم ټاکنې تر سره نشي نو د سترې محکمې حکم تر نامعلومې نېټې پورې د جمهور رئیس کاري مودې تمدید ته زمینه برابروي.

بل دا چې په اساسي قانون کې هېڅ داسې څه نشته چې د هغې صلاحیت د تفسیر د سترې محکمې کار وي یوازې دا چې له اساسي قانون سره د قوانینو، تقنیني فرمانونو، بین الدول معاهدو او بین المللي میثاقونو د مطابقت څېړل، د حکومت یا محاکمو په غوښتنه او د هغو تفسیر د قانون له حکمونو سره سم د سترې محکمې صلاحیت دی. بل دا چې سترې محکمې عالي شورا ددې موضوع په اړه ډېر زر فیصله کړې دوی د جمهوري ریاست د حقوقي چارو پالیسی ریاست نه مکتوب د ۱۳۹۸ لمریز کال د حمل میاشتې په ۲۸ مه یعنې چهارشنبې تر لاسه کړی او پنجشنبې (۲۹) مه هم دولتي اداري نیمه ورځ کار کړي او جمعه (۳۰) مه رخصت

---

[8] https://foreignpolicy.com/tag/national-unity-government/

[9] https://www.pakistantoday.com.pk/2019/04/21/afghan-top-court-extends-ghanis-term-until-delayed-presidential-elections/

[10] https://www.crisisgroup.org/asia/south-asia/afghanistan/285-afghanistan-future-national-unity-government

دی او دوی د وري میاشتې په ۳۱ مه باندې د جمهور رئیس د کار د تمدید حکم ورکړی چې دا کار، په خپله په یوې لویې ملي قضیې کې د ډېرې عجلی په معنا دی.

حالاتو ته په کتو سره، شاید د ملي یووالي حکومت عمر غزول ، سره له دې چې قانوني نیمګړتیاوې لري، د یو مجبوریت په حیث ملت او سیاسي جریانونو ته د منلو وړ وي، خو په دې شرط چې جمهور رئیس او ملي یووالي حکومت د سولې داعیې ته ژمن پاتې شي او د ټاکنو نه مخکې، سولې ته اولویت ورکړي. خو، که ددې تصمیم ترشا، یوازې د موجوده حکومت عمر غزول او سوله ځنډول وي، نو په دې صورت کی به یې پایله د ولس لپاره ډېره درنه او ناوړه وي.

ارتباط با ما:
ایمیل: info@csrskabul.com - csrskabul@gmail.com
وب سایت: www.csrskabul.com -- www.csrskabul.net
شمارهٔ تماس دفتر: (+93) 202564049 - (+93) 784089590
محقق و مسؤول تحلیل هفته: احمدشاه راشد (+93) 784249421 ahmadshahr786@gmail.com
محقق: ضیاءالاسلام شیرانی (+93) 764747548 zi.shirani@gmail.com